مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۷/۱۷

# خوشعرونه، خویادونه

## څوکرلي تخمونه

## (د مطیع‌الله تراب لومړیتلین)

### دویمه‌برخه

**تراب د جګړو، مهاجرتونو، ناخوالو او رنګارنګ بدلونونو په توفانونو کې رالوی شوی، له دې ټولو پېښو په ژوره توګه متأثر شوی، د خپلې‌ټولنې دغه ټولې پېښې یې د خپل ذهن په لابراتوار کې بیا ـ بیا مطالعه کړې دي، له خپلو تجربو سره یې یوځای کړې دي او پایله یې د شعر په قالب کې بېرته خپلې ټولنې او مخاطبینو ته وړاندې کړې ده، د همدې له‌پاره د تراب شعر د خلکو او ټولنې د عیني واقعیتونو او غوښتنو رڼه هنداره ګڼلای شو. د تراب شاعري د هغو خلکو پرذهن او فکر سخت ګوزار دی چې هغوی شعر یوازې د ګل و بلبل، زلف و کاکل، خط و خال خبرې ګڼي.**

(آصف بهاند)





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د تراب تر مړینې وروسته، د ګڼشمېر خلکو او ادرسونو له خوا د هغه په باب نظریات وړاندې شول، د تراب ځینو ملګرو او لارویانو د تراب په باب د خپل زړه حال ویلی دی، په لاندې لینک کې یې ویډیو کتلای شئ:

د تراب ملګري د ده په باب غږېږي:

https://www.youtube.com/watch?v=oJ8XIL_wloI

**د تراب د مړینې په باب د خواشینې پیامونه او له ده سره د نږدې دوستانو نظریات:**

د افغان جرمن پورټال د خواشینې پیام:

«د شاعر مطیع‌الله تراب د مړینې په پار د خواخوږۍ او ډاډګېرنې پیام

په ډېرې خواشینۍ سره مو خبر تر لاسه کړ چې د افغانستان د اوسني فرهنګي بهیر وتلی او د ځانګړي سبک خاوند شاعر مطیع‌الله تراب وفات شو،

**اناللّٰه و اناالیه راجعون**

د مطیع‌الله تراب ژوند او اثار د ځانګړي پاملرنې او څېړنې وړ دي، ده ځانګړي مخاطبین درلودل او تل یې د ټولنې نیمګړتیاوو نقد کولې او د شعر په قالب کې خپلو مخاطبینو ته وړاندې کولې.

افغان جرمن کاري ټیم د مطیع‌الله تراب له کورنۍ او مینه‌والو سره، په دې لوی ویر کې ځان شریک ګڼي، دوستانو او د شعر مینوالو ته د تسلیت مراتب وړاندې کوي، متوفی ته جنتونه، کورنۍ ته یې د لوی زغم هیله کوي.

افغان جرمن کاري ټیم»

نعمت‌الله صدیقي د نظر یوه‌برخه:

«دا د هرې ژبې و ادب د تخلیقي روایت او ملي احساس یو ډول طبعي ظرفیت وي، چې لیکوال او پنځګر یې د خاصو مواردو او ادبیاتو د تخلیق ترڅنګ عام یا اولسي او ملي ادبیاتو ته هم لاره کوي، مطیع الله تراب د ورستی کټګورۍ د ادبیاتو هغه مخلوق او باظرفیت ملي شاعر او ناظم و، چې د ادبي او منظوم غږ اساس یې د خپلې خاورې خوشبو او د خلکو احساس او شعور وو.

دای که څه هم ما مخامخ نه و لیدلی؛ خو د خپل سرشاره او یاغي مزاج له مخې مې په ټولو هغه ورستیو دورونو،حکومتونو او نظامونو کې لوستلی او اورېدلی و، چې د ورځنیو سیاستونو او خواوو جګړو اخ و ډب پکې ښه ګرم و تود و، دا یې ځانګړنه وه چې په دې هر سیاسي دور او عصري ورځنیو سیاستونو یې ښه په زغرده او ښکاره خبره کولای شوه، غږ او خبره یې بې سانسوره وه، د خپل شعر او خبرې لپاره یې خلک پیدا کړل یا خلکو د همداسې خبرو لپاره دای پیدا کړ؛ چې هر څه و؛ خو د وخت حاکمو او واکمنو ته په رسا او مخامخ خبرو مشهور او د ولس د مینې نښه شو...»

پوهاند دوکتور محمد اسماعیل د تراب د مړینې په مناسبت دوې لیکنې او یوټوټه شعر خپاره کړې دي، دا لاندې یې له لیکنو څخه ځومنتخبې برخې دي:«

ــ د سپین بغاوت بله نړۍ:
« نن په دې فاني نړۍ کې د ملي او انقلابي شاعر مطیع الله تراب وروستی ورځ وه ، تېره شپه یې زړه ودرېد او نن یې بې روحه بدن د هغې بلې نړۍ پر لوري حرکت وکړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

تراب ځلور لسیزې د ظلم او بې عدالتۍ پر ضد مبارزه وکړه ، کله به ده د مظلوم په توګه سپین بغاوت وکړ ؛ د ظلم ستني به یې ولړزولې او کله به ظلم پر ده غالب شو او په توره سیلۍ به یې سپین بغاوت پر شا وتمباوه، خو مبارزه روانه وه.

تېرو شلو کلونو کې دې مبارزو جوت اغېز وښنده ، د ملت په ذهن کې یې د مینې او ملتپالنې ګلان وکرل او دا کښت یې د زړه په وینو خړوب کړ، خبره تر دې راورسېده چې نور یې نو د زړه وینه وچه شوه او د فعالیت له مداره ووت...»

https://www.facebook.com/ismael.yoon1/posts/pfbid0xXf7GUZHYnm6fNeVA6PBJCVmzUW6qEroDwaw57d5GKdtHV2yMkX56xhWPjVuAo5nl

ـ پوره خبر ومه چې ځې راځخه:

« د تېر جمهوریت اوه اته کاله به تېر شوي چې تراب صیب په یوه مشاعره کې چې پکتیا ولایت کې جوړه سوې وه ، داسې انقلابي شعرونه وویل چې د وخت سیاسي فضا یې د زغم وس نه درلود . تراب د وخت د حاکمیت پر ضد بغاوت وکړ، ورو ورو مشهور شو او په خلکو کې محبوب شو خو د سر خطر یې هم محسوس شو .

پر (۱۳۸۹ ل) کال موږ ژوندون تلویزیون جوړ کړ ، تراب صیب ما کابل ته راوغوښت ، کابل ته راغی ، دفتر کې راسره کښناست ، ما ورته وویل یوه شوې د څه لپاره مې راوغوښتې ؟ ده وویل نه پوهېږم . ما ویل دربانديې وبربېږم چې ضایع نه شې ، یو خو به ته ضایع شې او بل کوم فکر او وطنپالنه چې ستا په ذهن کې دي ، هغه به هم ضایع شي ، مرګ خو حق دی تیاری باید ورته ونیسو ؛ ځو خو ځو چې یو څه خو رانه پاتې شي...»

https://www.facebook.com/ismael.yoon1/posts/pfbid09bAMNpFK6fBHtkVuiFRBWaNh2WKBANrrFHtXiMwn9f6Ve3rt3s8hjakNWqK7rhu2l

ـ اسکیرلی (یوتویتهشعر):

یون د ۲۰۲۵ ام کال د سپتمبر پرځلورمه نیټه د تراب هدیرې ته ورغلی، یو شعر یې د هغه د نشت په ویر کې انشاه کړی دی. دا د یاد شعر بشپـړمتن دی:

د مرحوم مطیع الله تراب پر قبر:
اسکیرلی
نن دې قبر ته ولاړ یم اسکیرلی
لکه زړه چې مې وي سیخ باندې پیېلی
تا خو وې چې د سندرو ښار به جوړ کړم
اوس خو غم دی ښار له ستوني رانیولی
د روښان جنډه دې ولې پورته نه کړه؟
اورنګزېب په کاڼي ګرم باندې ختلی
ټول وطن کې درویزه او بهرامخېل دي
د خوشال د خانی بزم چا لوټلی
تاتره کې مغولي بګوې پټې
بد شګوم یې تر پامیره رسېدلی

په کونړ کې له ناورین څخه خبر يې ؟
په رڼو سترګو قيامت خلکو ليدلی
نور مې خوار وجود کې هېڅ شی پاتې نه دي
حوادثو يمه څو رنګه ځنډلی
له رڼا سره يې ورانه ازلي ده
په تورتم کې امامت کوي دا کلی
په څلورو مذهبونو يې کافر کړم
ما ليدلی و د غله پر ږيره خلی
ته خو لاړې په جنت کې به دې تون وي
زه دې پرېښوم د دنيا غمو ته غلی
خوله مې بنده، ژبه وچه ده ګونګی يم
د وخت هر باد ته ولاړ يم لکه څلی
هېڅ علاج يي ما له چا سره و نه موند
دا نفاق په پښتنو کې چا کرلی؟
تر هغه به دا اورونه دلته بل وي
تر هغه چې پښتون داسې وي وېشلی
ستا به ياد شي چې دې وې استاده خير دی؟
دې کارو کې دې شه لږ پښه نيولی !
دا رقيب ماته معلوم دی سړی نه دی
دا خو بل دی زما مخ ته ودرولی
اوس هغه سړی دعوه د ملکی کړي
چې يو وخت خلکو و غلا کې لاس ترلی
هغه هر يو ، خدای په خپل غضب اخته کړ
په کعبه کې يې قسم و چې خوړلی
چې بې تانه خدايه هر چاته سجده کا
دا تندی دې کاشکې مځکې وای داغلی
څه په جوش او خروش راشي دې وطن ته
خو چې ځي څومره سرټيټی وي نتلی
ايوبي جذبه به خود رپي ميوند کې
په شمله کې يې ملالي ګل ټومبلی
هغه ورځ مې هم په ياد ده چې ته نه وې
ستا په غم کې ټول ولس و راوتلی
د زمري غوندی دښمن سره په جنګ وې
د مور دعا وه مور پر شا وې ټپولی
دا ارمان دې پر زړه پاتې شولې لاړې
پر اټک چې دې بيرغ وای رپولی
عجيبه شور دې له قبره پورته کېږي
کوم يو نظم دې وطن ته بيا ليکلی؟
داسې نه شي په رښتيا رښتيا خبرو
ستا ملګری نامعلومو وي وژلی
نه د قام شوې ، نه د جام شوې، نه د رزم
يونه ته نو يې بيا څه بلا وهلی ؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۱۱/۶/۱۴۰۴
ننګرهار»

https://www.facebook.com/ismael.yoon1/posts/pfbid02zzCme2AZD4EFcEV7QCvBxRdN2YpWUuts4SWk5Zm5T1RNPRvvrKGWSUXJndyPb1BXl



محمدالله همیم:

«تراب صاحب (غبار پر هندارو) کتاب کې، درمل صاحب ته وايي:

«نوې مې چې شاعري کوله. وړور مې و غوښتم، را ته و يې ويل چې شعرونه ليکې؟ ما ور ته هو وويل. بيا يې کتابچه را نه وغوښته، ما د شعرونو کتابچه ور ونيوه. ژمی و، بخارۍ بلېده، دهٔ کتابچه را نه واخيسته. بيخي يې پاڼه و نه کتهٔ، بخارۍ ته يې واچوله.»

تراب پهٔ همداسې وختونو کې هم خپله مزدوري کوله، او هم يې حماسي غزلې. اثري شاعر و.

تراب ته د وخت او مکان خبره مهمه وه. هغه د نقادانو پروا ګير نه و، حقيقتونه يې وويل. هغه دومره او داسې خبره لرله چې د شعر پهٔ چوکاټونو کې يې نه شوه ځايولی. ازاده شاعري يې وکړه. عامو ته يې د دوی پر وخت کې هر درد وغږاوهٔ. د مشال راډيو سره يې مرکه کړې وه، ويل يې:

«حامد کرزي غوښتی وم، شعرونه مې ور ته وويل. اخر يې را ته ويل: موږ خو خير. پهٔ خارجيانو مه لګيږه، مشکل بهٔ در ته جوړ شي.»

شهباز خپرندويه ټولنه:

د تراب صاحب د خپرو شوو کتابونو په باب د شهباز خپرندويې ټولنې معلومات:

«د مطيع الله تراب چاپ شوي کتابونه او د کلياتو د چاپ هڅه:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ارواښاد مطیع الله تراب صیب په ژوند کې هغه کتابونه چې په رسمي ډول چاپ شوي، خپله یې کتلي او تایید کړي، دا دي:

۱. للمي ګلونه د کاڼي اوبه
۲. سپین بغاوت
۳. بې‌پولې شاعر
۴. زه په خپل کړي بغاوت باندې پښېمانه نه یم.

که څه هم په یادو کتابونو کې کېدای شي ځینې املایي تېروتنې موجودې وي، خو د کلام له پلوه ټول اشعار د ارواښاد تراب صیب خپل دي، او د بل چا شعرونه پکې شامل نه دي.

له دې پرته، هغه کتابونه چې د تراب صیب یا د هغه د کورنۍ له اجازې پرته چاپ شوي، زیاتره یې د اعتبار وړ نه دي. ډېری شعرونه پکې د تراب صیب نه، بلکې د نورو شاعرانو دي.

موږ دا مهال په دې هڅه او څارنه بوخت یو چې د پردیو اشعارو څخه پاک، کره او مستند د مطیع الله تراب صیب کلیات ترتیب، سمون او چاپ کړو، او دا د ادب‌پالو ټولنې مخې ته د یوه ارزښتناک ادبي خدمت په توګه وړاندې کړو.»

نوربیا

لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ